



**استاد گل پاچا الفت:** خدای بخښلی استاد گل پاچا الفت هغه لوی او وتلی ادب پوه، فرهنګپال، اندیال، نامتو پوهیال، خوږ ژبی او نوښتګر شاعر، نومیالی هیواد پال، دیني عالم، پوخ او هڅاند لیکوال، سیاست پوه، علمي نقاد او تکړه څیړونکی، نامتو رسنوال او ژباړونکی، پر ټولو ګران او ټولو ته منلی ملي شخصیت، او د علم او ادب رښتینی او ستر خدمتګار وو، چې په خپلو اغیزناکو او ګټورو منظومو او منثورو نښیرونو(آثارو) یې د ادب، شعر او شاعرۍ نړۍ تل غوړیدلې، روښانه او ځلانده ساتلې ده.

«استاد گل پاچا الفت» د میرسید پاچا زوی او د سید فقیر پاچا لمسی دی، چې پر (۱۲۸۸) لمریز کال یا (۱۹۱۰) زیږدیز کال کې د «لغمان» ولایت د «قرغیو په ولسوالۍ» کې د «عزیز خان کڅ د منصور» په کلي کې په یوې علمي، روحاني او درنې کورنۍ کې نړۍ ته سترګې غړولې دي.

د استاد الفت صاحب له علمي او ادبي ګټورو نښیرونو(اثارو) څخه څرګندیږي چې دی د لوی او پیاوړي استعداد، وړتیا او ذکاوت خاوند شخصیت وو. ده خپلې علمي زده کړې په خصوصي توګه په غیرې رسمي مدرسو کې پای ته رسولې

دي، او د مروجو او متداوله علومو لکه: فقهي اصول، صرف، نحو، معاني، بديع، بيان، عروض، منطق، حکمت، رياضي، علم کلام، تفسير، حديث، فلسفه او داسې نور علوم يې د لغمان، ننگرهار او کابل په ديني مدرسو کې له مخکښو او نامتو استادانو څخه زده کړي او لوستلي دي او خپل بنسټيز مالومات يې په دې اړوند بشپړ کړی وو. د الفت صاحب مورنۍ ژبه پښتو وه، خو دري-پارسي ژبه يې هم په ښه توگه زده کړې وه. ده په دري ژبه هم ډېر ليکنې او مقالې کښلې دي او داسې پارسي اشعار يې ويل، چې په لوړو پارسي اشعارو کې حساب کېږي. سربېره پردې الفت صاحب په ديني مدارسو کې عربي ژبه تردې حده زده کړې وه، چې مضامين يې پرې ليکل او دغه ژبه يې هم ښه زده وه.

استادالفت صاحب ديو مخکښ، نوښتگر، ادبي، فرهنگي، ملي او مبارز شخصيت په توگه د خپل ژوند په اوږدو کې ډېر اغېزناک، گټور او ارزښتمن منظوم او منثور نښيرونه(اثار)کښلې دي. ده په خپلو منظومو او منثورو نښيرونو(آثارو) کې فلسفي ، علمي او منطقي استدلال، سپيڅلې هيلې او آرمانونه د زړه غږ او ملي احساسات د خپل هېواد، خلکو، ټولنې او ټولنيزو اړيکو او مناسباتو په تړاو داسې لوی او خيالي اندونه او افکارو انځور او بيان کړې دي، چې زموږ هر هېوادوال د خپلو زړونو او آرمانونو مقاصد، موخه او اهداف په کې موندلای شي. د الفت صاحب د نښيرونو (آثارو) ځلا او ښکلا د پښتو ادب په ډگر کې د تل لپاره روښانه، ځلانده نه هېرېدونکي او نه ورکيدونکي دي.

اروابناد استاد گل پاچا الفت پر (١٣٥٦) لمريزکال د ليندۍ د مياشتې پر (٢٨) نېټه د زړه د حملې له امله د عزيز خان په کڅ کلي کې، چې د ژوند په آخرو وختونو کې هلته اوسيدو په حق ورسيدو، او د دوی په پلرنۍ مږستون او هديره کې په خورا درنو مراسمو خاورو ته وسپارل شو.

**دا هم د استاد گل پاچا الفت اغېزناکې، مهمې، گټورې او غوره ويناوې او خبرې:**

- يوازې مينه ده چې له پاچاهانو خدمتگاران جوړوي.

- زموږ ډېر غمونه د خوښۍ په ډالۍ کې پټ دي.

- خينې وايي، خوښ خلک هغه دي چې غم نه لري، خو داسې نه ده، له هر چا سره د خوښۍ په اندازه غم دی.

- د ژوند خوشحالي هغه گرانبيه او قېمتي مرغلره ده، چې يوازې د موخې او هدف په لمن کې موندل کېږي.

- د خپل کار سره مينه لرل د بري ستر راز دی.

- دانسان اصلي شتمني او ثروت کار او استعداد دی همدا دوه شيان دي چې انسان لوړ مقام ته رسوي.

- هڅه د انسان د بري لوی راز دی، دا د انسان د هڅو پایلې دي، چې غرونه سوري شول، سپېرې دښتې زرغونې شوې، پر دریابونو لارې جوړې شوې، په هوا مزل پیل شو او له ځمکې پټ شیان رابرسېره شول.

- موږ تر هغه وخته قوي او غښتلي یوو تر کومه چې پر ځان باور لرو. کله چې باور له لاسه ورکړو د سیالۍ په میدان کې مو پښې لړزه کوي او لوېږو.

- زه لوی او کوچیني خلک په دې پېژنم چې لوی خلک په راتلونکي او کوچیني خلک په تېر فکر کوي.

- په پلار او نیکه پسې مه ځئ په حقیقت او ریښتینولۍ پسې لاړ شئ.

- ناوړه او بې ځایه ټاکنه د انسان برخلیک له سوتونزو سره مخ کوي.

- حق ویل لوی عبادت دی.

- له خطرونو سره د جنګ پایله ژوند دی.

- انسان چې څومره حقیقت خوښوي هومره یې نه وایي!

- له ښه فکر نه، ښه اراده او تکل، له ښې ارادې او تکل نه، ښه عمل پیدا کېږي.

- هیلې لرل او د راتلونکې ژوند په اړه فکر کول دلویو او بریالیو کسانو کار دی.

- د غم او خپګان یوه دنده او وظیفه دا ده چې د خوشالۍ ذایقه او خوند روزي.

- ځیني وخت خپګان او غمونه د خوشالۍ د راتلو زیری راکوي.

- زموږ ډېر غمونه د خوښۍ په ډولۍ کې پټ دي.

- په خلکو حکومت کول ګران نه، بلکې په هغو کې د لایقو او پوهو کسانو پېژندل ګران کار دی.

- ډېرې خبرې کوونکو او ډېر فکر کوونکو ته د کار خلک نه شو ویلی، ځکه تر ډېره یې خبرې او فکر عملي جنبه نه لري.

- غوره ښځه هغه ده چې خپل لیاقت په سینګار کې نه په کار کې وښیي.

- ژوند تحول او تکامل دی.

- د کمزورې عقیدې خاوندان د اوبو هغه څګ ته ورته دي چې ژر له منځه ځي.

-  پرته له اخلاقو ژوند د ناروغ ژوند دی چې له ډېرې شتمنۍ سره یې هم ژوند تریخ وي.

- د انسان په وجود کې دوه شیه ډېر عزیز معلومېږي، چې یوه ته زړه او بل ته دماغ وایي. له دماغ نه علم او فلسفه پیداشوه او له زړه نه شعر او ادب.

- موږ هغه وخته قوي او غښتلي یو تر کومه چې پر ځان باور لرو. کله چې باور له لاسه ورکړو د سیالۍ په میدان کې مو پښې لړزه کوي او لوېږو.

- د نورو هېوادونو پوهان د خپل ژوند ښه کولو لپاره له خپلې پوهې او عقل نه کار اخلي خو زموږ پوهان په فکر او تصوراتو کې ډوب دي.

- د یو هېواد د مشرانو او رهبرانو یوازې دا دنده نه ده چې د خلکو د ژوند ښه کولو لپاره هڅه او کوښښ وکړي، بلکې مشران د خلکو په زړونو کې مینه، هیلې او اسرې را ژوندۍ کړي.

- هغه مشران او رهبران چې له پیسو سره مینه کوي هیڅکله له خپل ملت سره مینه نه شي کولای.

- موږ باید د عقل او فکر خاوندانو ته احترام و کړو ځکه هغه مشعل او رڼا چې موږ ته لوړې ژورې رابښیي هغه ددوی په لاس کې دي.

- چیرې چې د حق وینا نه کیږي هلته ذوق مري فکرونه له منځه ځي او نیکمرغي تبنتې ته مخه کوي.

- چېرې چې عدالت او عدل نه وي، هلته ژوند لوی عذاب دی.

- عادي او ناپوه کسان د نورو په خبرو اند و فکر پسې ځي، خو هوښیار او د لوړ اندو فکر خاوندان بیا په خپل وجدان او ضمیر پسې.

-  تاسو باید تل حسابي واوسئ؛ هر وخت او هر چېرې مو له خپل ځانه حساب وغواړئ.

- عادي او نا پوه کسان د نورو په خبرو او فکر پسې ځي هوښیار او د لوړ اندو فکر خاوندان بیا په خپل وجدان او ضمیر پسې ځي.

- پر خلکو حکومت کول گران نه، بلکې په هغو کې د لایقو او پوهو کسانو پېژندل گران کار دی.

- د انسان لویه دنده دا ده چې د خپل ژوند ساتنه، پالنه او روزنه وکړي.

- ځينې کسان پوهه لري، انسانيت نه لري! ځينې بيا انسانيت لري خو پوهه نه لري. تر ټولو غوره کسان هغه دي چې دواړه لري.

- په ياد ولرئ ښکلی لباس، غوره وينا شهرت او مقام د انسانيت معيار نه شي کېدای!

- په ياد ولرئ چې تيز باران سېلابونه او تندر له ځان سره لري.

- هر څه چې اخلې وايې خله، خو د خوار او غريب آزار مه اخله!

- چېرته چې جديت وي هلته پرمختګ ډېر تر سترګو کېږي.

- يوه وويل: زه له خپلې ښځې دومره وېرېږم چې هر څه وايي هغه کوم. بل وويل: زه بې ويلو هم د هغې په خوښه کار کوم. درېيم غبرګ کړ: زه هيڅکله بې له څه ډالۍ کورته نه شم تللی. څلورم وويل: ما له ډاره بيخي ښځه نه ده کړې.

***

**په درنښت او ادبي مينه: انجنير عبدالقادر مسعود**